مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق

۲۰۲۶/۱۱/۱۶

ادبي راپور که ادبي راپورتاژ

با خرابات نشینان ز کرامات مَلاف
هر سخن وقتی و هر نکته مکانی دارد

بخښه دي وي چې د دې رويداد پيل په يوه ادبي ګستاخۍ کوم. ګستاخي دا ده، چې زه د «ادبي راپور» له اصطلاح سره موافق نه يم. له هغو درنو علمي او ادبي شخصيتونو سره د نظر اختلاف ته زړه ښه کوم، چې درناوی ئې زما په زړه کي تر دې حده ژور ځای لري چې د هغوی په وړاندي د اختلاف جرئت لا پخپله يو ډول ادبي ګستاخي راته ښکاري. خو همدا ګستاخي پر ځان منم او دا جرئت هم کوم، چې د هغوی له خوا د منل سوي «ادبي راپور» د اصطلاح پر ځای د يوه بل نوم وړاندیز وکړم.
زما دا عاجزانه وړاندیز دئ چې مور هغه ليکني ته، چې له کلونو راهيسي ئې ادبي راپور بولو، ولي ادبي راپورتاژ ونه وايو؟ کېدای سي ځيني ملګري دا يوازي د الفاظو لانجه وګڼي، خو زما په اند په ادب کي د لفظ انتخاب د معنی انتخاب دئ.
د راپور او راپورتاژ تر منځ هماغه توپير دئ چې د يوې پېښې د خبر او د هغې پېښې د تجربې تر منځ وي. راپور مور ته وايي چې څه پېښ سول، خو راپورتاژ رابنيي چې څنګه پېښ سول، ولي پېښ سول، او تر تېرېدو وروسته ئې د انسان پر زړه او ذهن څه نقش پرېښود.
راپور پېښې شمېري، خو راپورتاژ د هغو روح ته د رسېدو هڅه کوي. په راپور کي د شاعر نوم، د هغه کلام او د اورېدونکو داد ثبتېږي؛ خو په راپورتاژ کي د شاعر د ږغ لوړي ژوري، تر شعر وړاندي چوپتيا، د مصرعې تر اورېدو وروسته بې اختياره واه واه، او د اورېدونکو پر څېرو راڅرګندېدونکي احساسات هم خپل ځای لري.
په راپور کي مشاعره پای ته رسېږي، خو په راپورتاژ کي محفل تر ختمېدو وروسته هم تر دېره وخته ژوندی پاته وي. ګواکي راپور د پېښې ثبت دئ او راپورتاژ د هغې ادبي بياڅونه.
خير، تر دې ادبي ګستاخۍ وروسته به اوس د خپلو مشرانو له خوا د يوه نرم يا سخت فرمان په تمه يم. که مي وړاندیز ومنل سو، نو دا به خپله نېکمرغي وګڼم، او که رد سو، نو لږ تر لږه به په دې ډاډه يم چې د زړه خبره مي په زړه کي پاته نه سوه.

د راپورتاژ اوږدوالی

اجازه راکړئ چې يوې بلې باريکي مسئلې ته مو پام راواړوم، چې زمور له ګران ملګري، د فکر او نظر له خاوند، ښاغلي هلمند ياد سره تړاو لري.
د هلمند ياد صاحب يوه ځانګړنه، چې زه ئې د زړه له کومي ستاينه کوم، دا ده چې دی کومه خبره يوازي په دې نه مني چې تر ده وړاندي ويل سوې ده. د ده په طبيعت کي د پوښتني راپورته کولو جوهر سته، او زما په اند همدا جوهر کولای سي چې يوه ورځ دی د ادب په نړۍ کي په يوه ښه کره کتونکي بدل کړي.
د ده يو همېشنی اعتراض د ادبي رويداد پر اوږدوالي باندي وي. ښايي د ده غوښتنه دا وي چې مشاعره دي که ټوله شپه هم روانه وي، خو رويداد ئې بايد په څو دقيقو کي پای ته ورسېږي.
ياد صاحب! ستا د لنډون خوښونه پر سترګو، خو خبره دا ده چې مشاعره يوازي د شعرونو د اورولو نوم نه دئ، بلکه يوه بشپړه ادبي، فرهنګي او کلتوري تجربه ده. په هغې کي شاعر هم وي، اورېدونکی هم، کلام هم، سکوت هم، داد هم، اختلاف هم، او کله کله داسي چوپتيا هم چې تر زرو دادونو درنه وي.
د راپورتاژ ليکونکي دنده يوازي دا نه ده چې ووايي کوم شاعر څه وويل؛ هغه بايد دا هم ووينې چې محفل څنګه جوړ سو، خبرې په کوم ځای کي جدي سوې، کوم شعر زړونه ولړزول، پر کومه خبره موسکا خپره سوه، کوم فکر اورېدونکي سوچ کولو ته اړ کړل، او کوم شاعر په خپل کلام د محفل فضا بدله کړه.
د دې ټولو شېبو د راټولولو لپاره قلم ته فرصت، کاغذ ته پراخي او لوستونکي ته حوصله پکار ده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

او بيا، زما ګرانه هلمنده! هغه محفل چې په جوړولو ئې مياشتي خواري سوې وي، هغه مشاعره چې شاعرانو د خپلو کلونو تجربې او احساسات په څو بيتونو کې رانغښتي وي، او هغه غونډه چې د ادب مينه والو د اوږدو لپاره خپل زعفراني مابنام تري جار کړی وي، آيا د هغې حق په څو کربنو کې ادا کېدای سي؟
زمونږ غوښتنه دا نه ده چې لوستونکی د اوږدوالي په سزا محکوم کړو، بلکه دا ده چې هغه کسان چې په محفل کې حاضر نه ول، زمونږ د راپورتاژ له لارې د هغې رونق، تودوښه او خوشبويي احساس کړي.
د راپورتاژ ليکونکي اصلي امتحان همدا دئ چې تېري سوي شېبې په الفاظو کې داسې خوندي کړي چې لوستونکی يوازې روداد ونه لولي، بلکه ځان په هماغه محفل کې ناست احساس کړي.
ښه نو، تر دې دوو مقدماتو وروسته، چې په يوه کې مو مشرانو ته ادبي ګستاخي وکړه او په بل کې مو له خپل ګران کره کتونکي سره دوستانه اختلاف، اوس به د اصلي محفل پر لور راوګرځو.

د ادبي غونډې پيل

د پانوس ادبي کاروان نوبتي غونډه د سويډن په مالمو ښار کې د سپټمبر پر پنځمه نېټه د افغان علمي او کلتوري مرکز په تالار کې د پانوس د رئيس ښاغلي درمل مکمل تر نظارت لاندې د مابنام پر شپږو بجو رسماً پيل سوه.
محفل د شعر په رڼا نه، بلکه د مبارکۍ د خوږو الفاظو په ډېوه روښانه سو. د پانوس دوه ګران غړي، محترم محمدالله اميري او محترم نياز پياوړی، په دې وروستيو کې د واده په سپېڅلي ټرون ټرل سوي دي. له همدې امله د محفل پيل د دغو دوو نويو واده سويو ملګرو لپاره په نېکو هيلو او دعاوو وسو.
د مبارکۍ تر دې خوږو او خوشحالو شېبو وروسته، محترم شاه رحمن ځواک په ډنمارک کې د پانوس د تېرې غونډې راپورتاژ، يا د مخکيني ناستې پروتوکول، حاضرينو ته ولوست. په دې توګه د تېرې غونډې خاطرې يو ځل بيا تازه سوې. درووند ځواک صاحب «د ورکو لارو مسافر» په نوم د يوه ښکلي ناول ليکوال دئ، چې ما ئې هم په لوستلو پيل کړی دئ، خو د روزګار بوختياوو لا تر اوسه د دې فرصت نه دئ راکړی، چې تر پايه ئې ولولم. ځواک صاحب د پانوس د ادبي غونډو همېشنی راپورتاژ ليکونکی دئ، او زما په اند دا مسئوليت د ده له شخصيت او قلم سره خورا ښه ښايي. خدای تعالی پياوړی حافظه، ځيرک نظر او د پېښو د بيانولو داسې ښکلی هنر ورکړی دئ، چې د غونډې تر ټولو وړه خبره هم د ده له پامه نه وځي.

د پانوس رياست

تر دې وروسته د خبرو رخ د پانوس د رياست پر لور واوښت. د نوي رئيس د ټاکلو موضوع تر بحث لاندې ونيول سوه، او تر خپلمنځي سلا او مشورو وروسته ټولو په يوه خوله پربکړه وکړه چې د ټولنې نوی مشر به په راتلونکي غونډه کې ټاکل کېږي.
دلته به د پانوس د اوسني مشر، محترم مکمل صاحب، يادونه نه کول ښېشکه يوه ادبي بې انصافي وي. له تېرو دوو کلونو راهيسې نوموړي د پانوس د رياست مسئوليتونه په داسې وقار، نظم و ضبط، سنجيدګۍ او مسئوليت سره پر مخ وړي دي چې په رښتيا هم د ستاينې وړ دي. د ده په شخصيت کې له اداري وړتيا سره هغه شرافت او نرم خويي هم سته چې د يوې ادبي ټولنې د رئيس لپاره يوازې يوه ښه ځانګړنه نه، بلکه يوه اساسي اړتيا ده.
مشر کېدل په ظاهره يو مقام دئ، خو د اديبانو او شاعرانو د يوې ټولنې مشر کېدل بيا ببخي بله خبره ده. دلته هر څوک د خپلو فکرونو يوه بېله پاچاهي لري، هر شاعر د خپل تخيل امپراتور وي، او هر د نظر خاوند دا حق له ځان سره ساتي چې خپله خبره تر يوه حده وروستۍ خبره وګڼي. په داسې حال کې د ټولو ملګرو يو ځای ساتل، د اختلافاتو تر منځ انډول ټينګول، او د محفل کښتۍ په ښه تدبير تر ساحله رسول کومه عادي وړتيا نه ده. خدای مو پر دې غير عادي ناخدا له تېرو دوو کلونو راهيسې نازولي يو.

فروتن بوَد هوشمندِ گُزين
نهد شاخ پُرميوه سَر بر زمين

ښايي همدا لامل وي چې که څه هم د نوي رئيس پر ټاکلو ټولو موافقه کړې ده، خو د ملګرو زړونه لا تر اوسه دې ته نه دي تيار چې خپل اوسنی مشر له دې مقامه رخصت کړي.

د ننګ صاحب شعري ټولګه

د محفل د اجنډا دوهمه موضوع د يوه داسې ادبي مسئوليت په اړه وه، چې ارزښت ئې يوازې د يوه شاعر د شعرونو تر راټولولو پورې محدود نه دئ، بلکه د پښتو ژبې د ادبي ميراث له ساتنې او راتلونکو نسلونو ته د هغه له سپارلو سره هم تړاو لري.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دا موضوع زمونږ د درانه او تکړه شاعر، ښاغلي محمد صديق ننګ د شعري کلام راټولول، د هغه د تيت او پرک او ورکو سوو نظمونو او غزلونو بيرته پيدا کول، او بالاخره د هغه د شعري ټولګي چاپ او خپرول وه.
په دې اړه ننګ صاحب وويل چې د خپل کلام يوه برخه ئې راټوله کړې ده، خو د پخوانيو شعرونو بيا ليکل، د هغو پيدا کول او کمپيوټر ته ئې انتقالول کوم اسانه کار نه دئ. دى له ټبرو څو مياشتو راهيسې په دې کار بوخت دئ، خو د دې ادبي پانګې د بشپړ راټولولو لپاره لا نور وخت او د ملګرو همکارۍ ته اړتيا لري.
تر خپلمنځي بحث وروسته پريکړه وسوه چې په ګوګل ډرايو کې به يو ګډ ځای جوړيږي، تر څو ننګ صاحب وکولای سي هلته د خپلو نظمونو او غزلونو ږغيز ثبتونه خوندي کړي. د پانوس غړي به دې ادبي زېرمې ته لاسرسی ولري، دا ثبت سوي شعرونه به اوري او بيا به ئې په ليکلي بڼه اړوي. په دې توګه به يو يو شعر، يو يو نظم او يو يو غزل د شاعر په شعري ټولګه کې ځای نيسي، او بلاخره به د کتاب بڼه خپلوي.
اوس وخت رارسېدلی دئ چې د پښتو ژبې د ادب په لمن کې د ننګ صاحب د شعري ټولګي په بڼه يو بل رنګين غاټول ګل هم وټومبل سي؛ داسي ګل چې خوشبويي ئې يوازي د نن ورځې تر محفلونو پوري محدوده پاته نه سي، بلکه د راتلونکو نسلونو زړونو او ذهنونه هم معطر کړي.

د لکچرونو بيا پيلول

د محفل چاري مخته رواني وې چې د خبرو مخ يوې داسي موضوع ته واوښت، چې موخه ئې د پانوس د ادبي فعاليتونو لا زيات ګټور، بامقصده او با ثمره کول وه.
محترم ځواک يو ډېر مهم او پر ځای وړانديز وکړ. د ده په وينا، د پانوس په غونډو کې بايد د علمي او ادبي لکچرونو هغه لړۍ، چې له څه مودې راهيسې درېدلي ده، بيرته پيل سي. دا وړانديز په اصل کې د يوه ښکلي ادبي دود د بيا راژوندي کولو غوښتنه وه. په ټبرو وختونو کې به د پانوس مشرانو، تجربه لرونکو شاعرانو او د علم او ادب خاوندانو د ادب پر ښلابښلو صنفونو، د هغو پر فني غوښتنو، باريکيو او پټو رازونو باندې خبرې او لکچرونه ورکول.
زما چې څومره په ياد دي، د دې لړۍ په وروستيو لکچرونو کې محترم ښکسيار صاحب او ننګ صاحب خپل علم او تجربې له ملګرو سره شريک کړي ول. تر هغوی وروسته دا لړۍ يو څه غلي سوې وه.
د دې وړانديز په جواب کې ننګ صاحب په خوښۍ ژمنه وکړه چې په راتلونکې غونډه کې به د ادب پر يوه موضوع باندې لکچر وړاندې کړي.

ادبي ډالۍ

له هغې پريکړې وروسته ښکسيار صاحب وويل چې د مشاعرې د لومړنيو غزلونو يا نظمونو ويډيوګاني به بشرمل صاحب ته، د هغه په غوښتنه، لېږل کېږي، او هغه به ئې د خپلې فېسبوک پاڼې له لارې د ادب مينه والو ته رسوي.
ښکسيار صاحب په دې اړه پر نورو جزياتو ږغېدی چې ولايت خان ځدرانِ صاحب تالار ته راننوت.
ځدرانِ صاحب څه موده وړاندې له افغانستان څخه راستون سوی وو، چې هلته ئې ښې ډېرې ورځې تېرې کړې وې.
د ده پر خبره تازه ګي او خوشحالي له ورايه ښکارېده. داسي برېښېده لکه د وطن هوا چې ئې له مخ څخه د پردېس د سترېا څو کلونه پاک کړي وي. خو دى يوازي نه وو راستون سوی؛ له ځان سره ئې د ادب يو سوغات هم راوړی وو. ده محترم ښکسيار صاحب ته يو کتاب ډالۍ کړ، چې د نومياڼي شاعر او ادیب کاروان صاحب نوی ناول، شنه غمي واله جلکی، وو. کتاب! يو شاعر څه بڼه پر ويلي دي:

ایک چراغ اور ایک کتاب اور ایک امید اثاثہ
اس کے بعد تو جو کچھ ہے وہ سب افسانہ ہے

په دې توګه د ځدرانِ صاحب يو څه ناوخته راتګ هم د محفل لپاره يوه خوږه او په زړه پوري پېښه وګرځېده. په راتګ کې ئې د مينې تودوښه وه، پر خبره ئې د وطن تازه ګي وه، او په لاس کې ئې د ادب ډالۍ.
نو اوس به له داسي مېلمه څخه د ناوخته راتګ ګيله څوک وکړي؟

ماښامنۍ

نور نو خواړه و خوراک ته آماده وه. زمونږ ګرانو ملګرو ښاغلي جاوېد سروري او هيواد شېرزاد صاحب ډېره خوندوره کړايي، وريجي او سلاد تيار کړي ول، چې ورسره د يخو نوشابو بندوبست هم سوی وو. دوی د پانوس د ملګرو د مېلمه پالنې لپاره په ډېر زيار، مينه او اخلاص کار کړی وو، چې دا هم په خپل ځای يو هنر دئ. هنر يوازي په قلم او کاغذ پوري تړلی نه دئ؛ کله د فکر او احساس له لارې په الفاظو کې راڅرګندېږي او کله د ذوق او لاسونو په کمال د خوږو په خوند او خوشبويی کې ځان ښکاره کوي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مشاعره

د شپې پر نهو بجو مشاعره په رسمي ډول پيل سوه. د مشاعرې د ويانديو چارې ډاکټر صاحب نثار مرزا ته ور وسپارل سوې.
او د ادب د دې بزم د لومړۍ ډيوې د بلولو لپاره چې کوم شخصيت ته د کلام د اورولو بلنه ورکړل سوه، هغه بل ځوک نه، بلکه د پانوس بنسټ ايښوونکی، د ديارلسو کتابونو ليکوال، نومیالی شاعر، ادیب او د خپل ځانګړي نثري سبک خاوند، محترم بېکسیار صاحب وو.

در این معنی سخن باید، که جز سعدی نیآراید
که هرچۍ از جان برون آید، نشیند لاجرم بر دل

بېکسیار صاحب د هغو اهلِ قلمو له ډلې څخه دئ، چې خپل تخليقي سفر ئې يوازې د شعر تر پولو نه دئ محدود کړی، بلکه د نثر په ډګر کې ئې هم د خپل فکر او هنر نښې پرې ايښې دي. د ده د ادبي شخصيت دوه اړخونه، شعر او نثر، له يو بل سره داسې غاړه غړۍ دي لکه د يوه سيند دوې غاړې، چې که څه هم بېلې بېلې ښکاري، خو د يوه بهير لورۍ ټاکي.
اوس د پانوس په محفلونو کې دا يو ښکلی دود ګرځېدلی دئ چې مشاعره هم د ده په کلام پيلېږي او هم د ده په شعرونو پای ته رسېږي. ګواکې دی د دې ادبي بزم مطلع هم دئ او مقطع هم.
نومورې په خپل ځانګړي انداز او خوږه لهجه د غزل په ويلو داسې پيل وکړ:

تا نه تر ژوند پس تم کېدو کښتۍ روانه مي کړه
ړنکه د وخت په ډوبېدو کښتۍ روانه مي کړه

او په دې توګه د مشاعرې لومړی دور په رسمي ډول پيل سو. د ده له کلام سره سم په محفل کې هغه ادبي سنجيدګي او لطافت خپور سو، چې د يوې ښې غزلې له لومړي بيته پيدا کېږي.
دوهم نوبت د انجنير صاحب عيسی بهرام وو. د انجنير صاحب د شاعرۍ يوه ځانګړتيا دا ده چې دی يوازې شاعر نه دئ، بلکه د خوږ ږغ خاوند سندرغاړی هم دئ. دی نه يوازې د الفاظو په معنی پوهېږي، بلکه د هغو په موسيقيت، آهنګ او ږغيزه ښکلا هم ښه پوهېږي. دی شعر فقط لولي نه بلکه په خپل ږغ کې ئې هغه پټه نغمه هم راويښوي چې د شعر په زړه کې پرته وي.
انجنير صاحب خپل غزل په هماغه خوږ او ترنم لرونکي انداز واورول. لومړۍ کربنې ئې دا وې:

غږونه جګ د توري او زغرې چا وا نه ورېدې
له محبت جوړې سندرې چا وا نه ورېدې

تر ده وروسته ولايت خان ځدرانِ صاحب خپل کلام وړاندې کړ.
د ځدرانِ صاحب د شخصيت يادونه د ده له موسکا پرته ښايي بشپړه نه سي. دی له هغو خوش طبعه انسانانو څخه دئ چې موسکا ئې پر څېره يوه لنډمهاله کيفيت نه، بلکه د شخصيت يوه دايمي برخه ګرځېدلې وي. که د دوستانو مجلس وي، که ادبي غونډه وي او که عادي ليدنه، د ده پر شونډو تل يوه اشنا موسکا پرته وي.
او په دې مابنام هم ده له هماغې موسکا سره خپل شعر داسې پيل کړ:

نن د کلي هوا بل شان معلومېږي
نن په کلي کې هر ګل له خندا شين دئ

بيا د ننګ صاحب وار راورسېد. د ننګ صاحب د نوم په اورېدو سره په محفل کې د يوه داسې شاعر د شتون احساس راژوندی کېږي، چې تر شا ئې د کلونو ادبي رياضت، تجربه او کلام پېژندنه ولاړه ده. د ننګ صاحب د شعرونو په اورېدو سره مي دا فکر هم په زړه کې راوګرځېد چې د کومې شعري پانګې د خوندي کولو خبره چې لږ مخکې سوې وه، د هغې اصلي ارزښت خو په همدې محفلونو کې احساسېږي، کله چې شاعر په خپل ږغ خپلو الفاظو ته ژوند وربخښي.
ده خپل د تازه ليکل سوی غزل تار داسې وغږاوه:

چا وې رنا چا وې تورتم کيسې ريکارډ مات کړی
زمونږ په کلي د غم قصې ريکارډ مات کړی

تر ده وروسته د راوي، يعني د راپورتاژ ليکونکي څخه هيله وسوه چې څه ولولي، نو ئې د «اختطاف» تر عنوان لاندې کيسه په سلو ټکو کې ولوسته. په دې توګه د شعر تر څنګ د افسانوي نثر رنګ هم په محفل کې ورګډ سو.
آخر د ادب په نړۍ کې شعر او لنډه کيسه که څه هم دوې بېلې لاري دي، خو د دواړو منزل د انساني تجربې ژورو

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ته رسېدل دي. شاعر کله د ژوند ټوله کيسه په يوه مصرعه کي رانغاړي، او د کيسې ليکونکی کله په يوه کوچنۍ پېښه کي د انسان ټول باطن راڅرګندوي.
د دې دور وروستی شاعر ودير صافي صاحب وو.
د ودير صاحب د شعر ويلو په انداز کي يو ځانګړی دروندوالی سته. د ده دروند، اغېزناک ږغ او د الفاظو سنجيده ادا کول شعر ته يو ډول شان وربخښي. دی نه الفاظ په تلوار يو پر بل غورځوي، او نه مصرعي داسي تېروي چې معناوي ئې شاته پاته سي. د ده په شعر ويلو کي هر لفظ ته د ادا کېدو وخت ورکول کېږي، هري مصرعي ته د ساه اخيستلو فرصت، او هر فکر ته د اورېدونکي تر ذهنه د رسېدو موقع. ده د خپل تخيل کړکۍ د غزل په دې بيت پرانيسته:

راسره څنګ په څنګ روان خلګ راوګرځېدل
ورسره تللو خو ارمان خلګ راوګرځېدل

دا تم کېدل او کراروالی يوازي د شعر ويلو يو انداز نه دئ، بلکه و شعرته يو ډول درناوی دئ. ځکه ښه شعر يوازي د اورېدو شی نه دئ، بلکه په هغه پوهېدل، احساسول او د ذوق پر تله ئې تلل هم ضروري دي.
په دې توګه د مشاعرې لومړی دور پای ته ورسېد. پرېکړه دا وه چې په همدې دور کي د ويل سوي کلام ويډيوګاني به محترم لقمان بشرمل ته ليږل کېږي، تر څو د پانوس د دې ادبي مابنام ږغ د فېسبوک له لاري د ليرې پرتو ادب مينه والو تر غوږونو هم ورسېږي.
دلته که د مشاعرې د يوه مهم شخصيت يادونه ونه سي، نو دا راپورتاژ به نيمګړی پاته سي، او هغه زمور ګران ډاکټر نثار صاحب دئ، چې په دې مابنام د مشاعرې د نظامت مسئوليت ورسپارل سوی وو.
ډاکټر صاحب نه يوازي يو ښه طبيب دئ، بلکه د ادب ډېر ښه ذوق او پراخه مطالعه هم لري. داسي ويلای سو چې د مسلک له مخې د انسان نبض پېژني، خو د ادب په ډګر کي ئې د شعر پر نبض هم ګوته ايښې ده. ډاکټر نثار صاحب په دې مابنام همدا مسئوليت په ډېر ښايسته سليقې، مينې او ادبي وقار سره ادا کاوه.
د شاعرانو تر منځ چې به کومې لنډې وقفې راتلې، هغه به ئې هم تشې نه پرېښودې. کله به ئې د ممتاز بيت اوراوه، کله د لايق، کله د حميم جلالزي، او کله به ئې د برکت الله سليم او دروېش په کلام محفل ښکلی کاوه.
تر دې وروسته د مشاعرې دوهم دور پيل سو. په دې دور کي يو ځل بيا د بېکسيار صاحب کلام واورېدل سو، او محترم ډاکټر صاحب هم د بېکسيار صاحب يوه نظم وړاندې کړ. انجينر صاحب په خپل ترنم لرونکي ږغ محفل ونازاوه، ننګ صاحب او ودير صاحب خپل شعرونه واورول، او د دغو کرښو ليکونکي يوه بله کيسه ولوسته. په درېيم دور کي بېکسيار صاحب، انجينر صاحب او ننګ صاحب يو ځل بيا په خپلو کلامونو محفل ته رونق ورکړ.
او همداسي په ځلورم دور کي هم زمور همدغو درنو مشرانو اورېدونکي په نورو شعرونه ونازول. او بيا، د دې ادبي مابنام په وروستی برخه کي، محترم ځواک د يوه ليکوال يوه ډېره ښکلي لنډه کيسه، چې په فېسبوک کي خپره سوې وه، حاضرينو ته ولوستله.

موسيقي

مشاعره چې پای ته ورسېده، نو داسي احساس کېدی لکه الفاظو چې خپل مسئوليت ادا کړی وي او اوس ئې د محفل واګي سُرونو ته سپارلي وي. انجينر صاحب هارمونيه راواخيسته، سُرونه ئې برابر کړل، او بيا ئې په خپل خوږ ږغ د سندرو يوه لړۍ پيل کړه.
د انجينر صاحب د سندرو ويلو د هنر يوه ډېره په زړه پوري ځانګړتيا دا ده چې دی د پښتو د بېلابېلو سيمو سندري يوازي وايي نه، بلکه د هماغو سيمو په ځانګړو لهجو ئې ادا کوي هم. که د پکتيا سندره وي، نو د ده په ږغ کي د پکتيا د لهجې رنګ رابنکاره سي، که د کندهار نغمه وي، نو د کندهارۍ لهجې خوږوالی پکښې ګډ سي، او که د ننګرهار نغمه وي، نو د ختيځې پښتو نرمي او لطافت ئې په سُرونو کي راويښ سي.
محمدالله اميري صاحب هم د موسيقی د دې محفل واګي په لاس کي نيولی وی. ده په خپل خوږ او آهنګين ږغ ښکلي سندري وويلې او د سُرونو د دې روښانه محفل ډيوه ئې مړه کېدو ته پرې نه ښوده. د ده سندرو د مابنام ستړيا د موسيقی په نرمو څپو کي ويلې کړه.

وروستی شيبې

ورو ورو شپه ژورېده، سُرونه چوپېدل، او محفل هغه ځای ته راورسېد چې هلته تر خبرو چوپتيا ډېري خبري کوي. له ډنمارک څخه راغلو زمور د ګرانو مېلمنو د بېرته تګ وخت را رسېدلی وو. مور يو بل ته غاړې اولاسونه سره ورکړل، د خير دعاوي مو سره وکړې.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مورِ هر یو پر خپله لاره روان سوو، خو داسي احساس کېدی لکه د محفل یوه برخه چي هر چا له ځان سره وړي وي. چا د یوي غزلي مصرعه، چا د یوي کیسي فکر، چا د یوه ملګري موسکا، او چا د هارمونیي هغه وروستی نغمه، چي د هوا له څپو څخه د زړه و موجو ته رسېدلي وه. زه هم په محفل کي داسي ډوب سوی وم چي د غوندي د پای وخت یاداشت کول مي ګردسره هېر سوه، خو د یوه بجه سوه، یوه بجه سوه ازانګي مي په غوږونو کي دېره دي...

شبِ صحبت غنیمت دان که بعد از روزگارِ ما
بسی گردش کند گردون، بسی لیل و نهار آرد

راپورتاژ لیکونکی: محمدسمیع صادق



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ